# ښوونکي د استازو په توګه:
# د ځو ژبو کورنیو سره او لپاره استازیتوب

د ځو ژبو زده کوونکو له کورنیو سره ملاتړ پدې معنی دی چې د هغوی دغه حق وپېژندل شي چې د خپلو ماشومانو په تعلیم کې زمونږ د درناوي وړ ملګرو په توګه خبر، ښکېل او محترم واوسي. د کورنیو د غږونو او تجربو پر بنسټ، دا سرچینه د موضوعاتو ساحې او نمونوي پوښتنې وړاندې کوي چې ښوونکي یې له کورنیو څخه وپوښتي.

## د دوه اړخیزو اړیکو، ژبې ته د لاسرسي او ښکیلتیا وده

د کورنیو او ښوونکو ترمنځ روښانه، دوامداره، او د لاسرسي وړ اړیکې او ښکیلتیا د زده کوونکي د بریا لپاره د استازیتوب لپاره اړین دي.

### دوه اړخیزې اړیکې او ژبې ته لاسرسی

١. مونږ غواړو ډاډ ترلاسه کړو چې ټول معلومات تاسو ته په روښانه او دوامداره توګه ورسیږي. په کومه ژبه تاسو غواړئ چې د ښوونځي اړیکې ترلاسه کړئ، او له مونږ سره په کومه طریقه اړیکه نیول غوره ګڼئ؟
٢. تاسو څو ځله غواړئ د خپل ماشوم د پرمختګ په اړه معلومات ترلاسه کړئ، او د اړیکو کومې لارې (لکه پیغام، بریښنالیک، یا ټیلیفون) ستاسو لپاره غوره دي؟

### ښکیلتیا

١. څنګه کولی شو ستاسو د ماشوم د بریا د ملاتړ او زمونږ د ښوونځي د ټولنې د پیاوړتیا لپاره په ګډه ښه کار وکړو؟
٢. له ښوونځي سره د ښکېلتیا، د نظرونو شریکولو، یا له نورو کورنیو سره د اړیکو جوړولو لپاره ستاسو غوره لارې کومې دي؟
٣. آیا تاسو د ښوونځي د کارونو د طریقې په اړه کومه پوښتنه لرئ؟
٤. آیا ستاسو د ماشوم د تعلیم او هوساینې په اړه ځینې ځانګړې پریکړې شته چې تاسو غواړئ په هغو کې برخه واخلئ؟

## د زده کوونکو د زده کړې، علمي ودې او هوساینې ملاتړ

کورنۍ حق لري پوه شي چې د هغوی ماشومان په ښوونځي کې، په ټولګي کې او له هغې بهر څنګه ملاتړ کیږي.

### علمي ملاتړ او فرصتونه

١. د مور او پلار په توګه، تاسو سرکال د خپل ماشوم د زده کړې لپاره څه هیلې او موخې لرئ، او څنګه کولی شو د هغه د علمي ودې لپاره په ګډه کار وکړو؟ څنګه کولی شم ستاسو د ماشوم د څو ژبو وړتیا، د هغه د خوښې وړ کارونو او کلتوري شالید په وده کې مرسته وکړم؟
٢. آیا داسې ځانګړې علمي برخې شته چې تاسو پکې احساس کوئ ماشوم مو اضافي مرستې یا د ودې فرصتونو ته اړتیا لري، او څنګه کولی شو د دې لپاره په ګډه کار وکړو؟

### هوساینه او ملاتړیز خدمات

١. ستاسو ماشوم ښوونځي ته د راتګ په اړه څه احساس کوي؟ آیا داسې کومه ځانګړې خبره شته چې زه پرې پوه شم ترڅو مونږ وکولی شو د هغه د هوساینې او روحي آرامۍ لپاره په ګډه کار وکړو؟
٢. آیا داسې فعالیتونه یا خدمات (لکه غیر نصابي فعالیتونه، اضافي زدکړې، رواني روغتیا، او نور) شته چې تاسو غواړئ په اړه یې نور معلومات ترلاسه کړئ؟

WIDA™
UNIVERSITY OF WISCONSIN–MADISON

wida.wisc.edu
WIDA is housed within the School of Education at the University of Wisconsin-Madison.
© 2025 Board of Regents of the University of Wisconsin System, on behalf of WIDA

۳.   آیا تاسو کومه بله پوښتنه لرئ یا کومه بله خبره شته حې غواړئ شریکه یې کړئ؟

تاسو له کورنیو څخه نورې څه پوښتنې لرئ؟ له لاندې تش ځای څخه په ګټې اخیستو سره هر ډول اضافي پوښتنې چې ستاسو ذهن ته راځي، ولیکئ.



WIDA is housed within the School of Education at the University of Wisconsin-Madison.
© 2025 Board of Regents of the University of Wisconsin System, on behalf of WIDA